مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین
۲۰۲۶/۰۶/۳۰

# پاچا او دوه غله

## (طنزي کيسه)

دا پخوا وختونه هم عجیبه زمانه وه، د هغه وخت خلک څومره ساده، هم خوشاله او یا هم ځینو د کړاونو نه ډک ژوند تیراوه، د انسانانو ابتدایي یا د ډبرې دورې ژوند د اوسني ژوند سره ډېر توپیر درلود. انسانانو به په ځمځو کې ژوند کاوه، د غوښې او بوټو په راټولولو سره به یې خپل ژوند مخ ته وړ او د خپلو اړتیاوو د پوره کولو له پاره به یې د ډبرو او لرګیو څخه وسایل جوړول.

دغوانسانانو د ژوند په لومړیو کې د ډبرو، هډوکو او لرګیو څخه تېز وسایل جوړ کړل چې د ښکار او د غوښې په پرې کولو کې به یې ترې کار اخیست. د اور کشف د دوی د ژوند تر ټولو ستره لاسته راوړنه وه، چې د تودوخې او د خوراک د پخولو له پاره کارول کېده.

له پورتنیو معلوماتو نه ښکاري، چې انسانان له ډېر ابتدایي حالت څخه خپل ژوند پیل کړي او د زمان په تېریدو سره یې په ژوند کې بدلونونه رامینځته شوي، چې د دې بدلونونو اساسي لاملونه د انسانانو خپلې هلې ځلې یادولی شو.

هر ژوند یا ټولنه یو نظام او کنترول ته اړتیا درلوده چې په لومړیو کې وروسته له هغې چې انسانانو د کرنې او مالدارۍ ژوند پیل کړ، قبایل رامنځته شول. د دې قبایلو سیاسي جوړښت د وینې او کورنیو اړیکو پراساس جوړې شوي چې د ټبر د مشر له لورې د ټولنې د چارو، امنیت او جګړو مشري او اداره تر سره کیدله.

وروسته بیا د نفوسو په زیاتېدو سره، ځینو پیاوړو مشرانو وکولای شول ترڅود یو شمېر نورو قبیلو د اتحاد او یو ځای کولو پر اساس د قومي اتحادونو مشري رامینځته کړي. چې وروسته جمعیتونه نور هم ستر او پراخ کیدو لور ته درومی او پادشاهي نظامونه رامینځته کېږي.

د بشري تاریخ په لومړیو کې یاد شوی پادشاهان چې ځنې یې افسانوي پاچاهان یادشوي دي، له بیلابیلو لارو یې قدرت تر لاسه کړی دی، داسې یوافسانوي روایت هم شته چې په تېره زمانه کې په یوه سیمه کې به د باز پواسطه پاچا انتخابیده، یانې باز به یې والوزاوه د هر چا په اوږه به چې کیناست همغه به پاچا شو، ویل کېږی چې که دغه پاچا هوښیار شخص و او یا نا پوهه به و، خو ټولو به یې اطاعت کاوه، تر څنګ به یې نورو وزیرانو او وکیلانو نظام پر مخ بیوه.

وایي و، نه و، یو همداسې پاچا چې په اوږه یې د باز د ناستې له امله پاچاهي تر لاسه کړې وه، خورا هوښیار، عادل او خدمتګار پاچا و، خلکو ورته د عادل پاچا لقب هم ورکړی و او پر همدغه نامه یادیده.

پاچا به کله ناکله د سوالګر شانته په شلیدلو جامو، او یا د سوداګر تر نامه په ښار، کلو او بانډو کې ګرځیده تر څو د خپل قلمرو د ولسونو له ستونزو، غوښتنو، نیوکو او اړتیاوو نه خپله ځان خبرکړي او هم د خپلو چاراواکو د کړنو نه ځان ته کره معلومات تر لاسه کړي

کله نا کله به د شپې له خوا هم په ګزمه ګرزیده تر څو وضعیت کنترول کړي، د شپو نه یوه شپه نا وخته یوازې په ګزمه ووت، پر لاره له دوه کسانو سره مخامخ شو، پاچا ترې پوښتنه وکړه چې «ځوانانو په دې ناوخته شپه کې څه کوي؟ چېرې روان یاست»؟
له دې دواړو کسانو نه یوه ورغږ کړ چې« یاره غلا ته روان یو، او غواړو چې د پاچا خزانه غلا کړو.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

پاچا بیا ترې وپوښتل چې: «تاسو څه کمال او هنر لري چې د پادشاهی له دومره کنترول سره، سره د هغه خزانه غلا کوئ؟»

د غلو یوه تن وویل: «زه چې کله ساحې ته ورشم په دې پوهېږم چې خزانې چېرې دي، چیرې سره زر دي او چېرې سپین.»

دویم غله وویل: «زما کمال دا دي کله چې سپي غاپي، زه پرې پوهېږم چې هغوي څه وایی.»

پاچا وویل: «که غواړئ زه به هم په دې غلا کې له تاسو سره ملګری شم، څنګه خوښه مو ده.»

مشر غله ورغبر کړ چې: «موږ خو خپلې ځانګړتیاوې او کمالونه تا ته وویل، نو که ته هم له موږ سره غلا ته ځې، نو ووایه چې ته څه کمال لرې.»

پاچا وویل: «زه هم یو کمال لرم، هغه داچې که خپله ږېره چپ لورته وخوزوم په سلګونه کسان اعدامولی شم او که راسته خواته يې وخوزوم سلګونه کسان معاف کولای شم.»

غلو وویل: «ته خو عجیبه کمال لرې ستا ملګرتیا خو زموږ له پاره اړینه ده.»

درې واړه روان شول تر څو پاچاهی خزانه غلا کړي، کله چې خزانې ته نږدې شول په دغه وخت کې د سپیو غپا د دوو خواوو نه را پیل شوه.

پاچا له غله وپوښتل چې: «دا سپیان ولی غاپي ته خو د دوی په ژبه پوهېږې څه وایي؟»

غله وویل: «دا یو ډله غاپي او وایي چې و خلکو د پاچا خزانه یې غلا کړه، مګر دا بله ډله وایي چې پاچا خو خپله ورسره دي.»

بل غل چې سره او سپین ورته معلوم و، ریښتیا يې هم پیدا کړل څومره چې دوي درې واړو وړلی شول له خزانې یې غلا او له ځانه سره یوړل. اوس نو درې واړه غله له غلا شوي خزانې سره د مشر غله کور ته راغلل او غوښتل یې چې خزانه په خپلو منځو کې وویشي، پاچا وویل ملګرو اوس خو ناوخته شپه ده، ستړي هم یو، یو پر بل باور هم لرو، خزانې ته اوس لاس ورنه وړي، سبا به درې واړه همدلته راشو او په خپلو منځو کې به یې مساوی سره وویشو، پریکړه همداسې وشوه.

اوس نو پاچا ته خو غله سم معلوم وو، سبا چې دربار ته ولاړ، ګارد یې راوغوښت د غلو پته یې ورته ورکړه او ویې ویل چې دغه غله به له غلا کړي خزانې سره عاجل ما ته حاضروئ.

ګارد دواړه غله ونیول د پاچا حضور ته یې له غلا شوي خزانې سره حاضر کړل.

پاچا له غلو نه تپوسونه پیل کړل، دوی ته یې د غلا په مورد کې تهدیدې خبرې وکړي حتی د لاس د پرې کیدو تر کچې یې تهدید کړل. مشر غل چې خورا زیرک، هوښیار او په خبره پوه شخص و، پاچا ته یې داسې وویل:

«مالکه په ډېرو پوښتنو او تپس و پس دې نه پوهېږو خو زر کوه ږېره دې خوزوه، اوس نو خوښه ستا چې راسته خوا ته یې خوزوې او که چپه خوا ته.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ